ولي محمد کنډیوال

وږی ۱۳۹۷

# موضوعي څېړنه: په افغانستان کې د انسان د قاچاق د مخنیوي اداري میکانیزمونه

## سریزه

له ۲۰۰۱ ز کال را پدېخوا، یو شمیر پروژې چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په ګډون د بیلا بیلو بسپنه ورکوونکو له خوا تمویل شوې وي، د دې لپاره پلې شوې چې افغان حکومت ته دا وړتیا ورکړي چې په افغانستان کې د انسان د قاچاق د ستونزې بیلابیلو اړخونو ته حل لار ومومي.۱ په بنیادي توګه د دغو نوښتونو مرکزي ساحه نړیوال «P ۳» وو. یعني : ۱) د انسان د قاچاق مخنیوی، ۲) د قربانیانو ساتنه او ۳) د مجرمینو قانوني څارنه. د همدې لپاره ، د انساني قاچاق پر ضد د قوانینو جوړول ، د انسانانو تښتونې او قاچاق پر ضد جرمونو سره د مبارزې عالي کمیسیون، رامینځته کیدل د همدغو پروژو په ملاتړ تر سره شول . ددې ترڅنګ، د همدغو پروژو په مټ قربانیانو ته خدمات برابر شوه ، ملاتړ وشوو او په افغانستان کې قانون پلې کوونکو او قضائي کار کوونکو ته د روزلو زمینه برابره شوه. . سر بیره پر دې چې په تیره لسیزه کې د پام وړ بریالیتوبونه ترلاسه شوي دي، لا هم ډیرې ستونزې حل شوي نه دي.

د انسانانو قاچاق په اړه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په وروستې ریپورټ کې افغانستان دهغو نارینه وو، ښځو او کوچنیانو لپاره چې اجباری کار پرې کیږي او یا ترې جنسی ګټه اخستل کیږي؛ د سرچینې، د ټرانیزیټ په ډول استعمال او د وروستی تم ځآی په توګه په ګوته شوی دی. ۲.

نوموړي ریپورټ موندلی ده چې افغان حکومت په بشپړه توګه د انسان د قاچاق د له منځه وړلو په اړه د «کم تر کم معیار» سره سم عمل نه دی کړی؛ په هر صورت، ریپورټ یادونه کوي چې د پام وړ هڅې روانې دي چې یادې موخې ته ورسیږي.

دا پالیسي یادښت د موضوعي څېړنې د موندنو لنډیز وړاندې کوي چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری (AREU) او د خوندیتوب د حاکمیت ډلې (SGG) په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ ز کال کې ترسره کړې ده. دا پالیسی یادښت افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ته سپارښتنه کوي چې د افغان حکومت د وړتیا د لوړولو لپاره اړین ګامونه واخلی او نوموړی حکومت په هغو اړینو وسایلو سمبال شي چې خپل غبرګون غښتلی او پراخ کړي.

## څېړندود (میتودولوژي)

د دې موضوعی څېړنی د وروستی محصول د لاسته راوړلو لپاره له دواړو(لومړنیو او دویم لاس) مالوماتو څخه کار اخیستل شوی دی. لومړنې مالومات د انفرادی مرکو (KII) او د متمرکزو بحثونو (FGD) د شننې پر بنسټ ولاړ دي چې په درې ولایتونو: هرات، ننګرهار او کابل کې په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ ز کلونو ترسره شوي دي. په هر حال په دې پالیسي یادښت کې هغه تازه مالوماتو هم ځای شوی دی چې د ۲۰۱۸ زیږدیزکال په فبروري کې له لومړنیو ونډه اخیستونکو سره د لیکوال د پنځو لنډو غونډو څخه لاس ته راغلي دي، په داسې حال کې چې دویم لاس مالومات په افغانستان کې د «انسان د قاچاق» پر مسئلو پورې اړونده لیکنو ته د بشپړې بیاکتنې په پایله ده.

کابل د دې لپاره غوره شوی و چې ډیرې پالیسۍ هلته جوړې او پلې شوي دي. ننګرهار او هرات ځکه غوره شوي وو چې د انسان د قاچاق په هکله سیمه ایز تمایلات او د اړوند ادارو غبرګونونه وپیژندل شي، ځکه چې یادو ولایتونو کې افغانستان ته د ننوتلو دوه عمده دروازې یعنی تورخم او اسلام قلعه دي. دواړه (انفرادی مرکې (KII) او متمرکز بحثونه (FGDs) ) د هغه لارښود پربنسټ چې د GGS او AREU په سلا برابر شوی و، ترسره شوي دي. عمده مالوماتي مرکې (KII) د حکومت د څانګو له هغو استازو سره چې د انسانی قاچاق اړوندو موضوعاتو کې ښکیل دی او همدا ډول د نړیوالو موسسو له استازو سره چې په دې هکله ئې د افغانستان د حکومت ملاتړ کاوه، ترسره شوې وې. په متمرکزو بحثونو (FGDs) کې په عمده توګه د بشري حقونو ښځینه فعالانو ګډون درلود. د کورنیو چارو وزارت، د اختطاف (تښتونې) او انساني قاچاق له جرمونو سره د مبارزې عالي کمیسیون یا په افغانستان کې د بشري حقونو په خپلواک کمیسیون کې د انسان د قاچاق په هکله مالوماتو ته د لاس موندنې په اړه یو شمیر خنډونو او محدودیتونو وو. یو بل خنډ د انساني قاچاق قربانیانو ته لاس رسی و، ځکه چې د قربانیانو لویې برخې د کلتوری حساسیتونو له امله له څېړونکو سره له خبرو کولو څخه ډډه کوله.

---

۱ د عدلي سکتور د ملاتړ پروګرام- JSSP، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، د IOM د عامه پوهاوي پروګرام، د هاګر انترنشنل له خوا د انسانی قاچاق د قربانیانو لپاره د خوندي کیدو منظم ځای، د کوچنیانو د ساتنې شبکه – یونیسف.

۲ په ۲۰۱۵ زیږدیزکال کې د انساني قاچاق په اړه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت رپورټ: د انسان له قاچاق سره مبارزه او څارنه. په http://www.state.gov/j/tip/rls/tiprpt/۲۰۱۵/index.htm د موندني وړ.د ۲۰۱۵ زیږدیزکال د جولای په ۳۱ مه له ۲۴ مخ څخه رانقل شوي.

## موندنې

**په افغانستان کې د «انسان د قاچاق» پدیده**

دغې څېړنې لپاره د لیکنو بیاکتنه څرګندوي چې د انسان قاچاق په افغانستان کې یوه لویه ننګونه ده چې په یاد هیواد کې بشري خوندیتوب ته ډول ډول ګواښونه پېښوي. د دې خبرې مانا دا ده چې د انساني قاچاق له پېښوو سره مبارزه باید غښتلې وي او د «۳ ف» د تمرکز ساحې په مناسب ډول تر پوښښ لاندې ونیسي.

مخنیوی «له تښتونې او انساني قاچاق سره د مبارزې قانون» چې په ۲۰۰۸ ز کال کې تصویب شو د افغان حکومت له خوا د انسان له قاچاق سره د مبارزې لومړی ګام شمېرل کیږي. د نړیوالو تعریفونو درې عنصرونه – عمل، وسیله او موخه – هم په افغان تعریف کې ځای ونیول. سره له دې، دا قانون په خپل مقصد کې لږ پراخ و. په دې توګه، که څه هم نوموړي قانون د انسان د قاچاق پر ضد د «۳ P» ساحې تر پوښښ لاندې نیولې وې؛ خو د ۲۰۱۷ ز کال له جنوري راهیسې یې تعدیل شوې نسخه نافذه شوې ده. په تعدیل شوې نسخه کې تر ټولو اړین بدلون د کوچنیانو د قاچاق په توګه د بچه بازۍ۳ پېژندل وو، چې د ۲۰۰۸ز کال په قانون کې په دې اړه څه نه وو.

په دې توګه دا تعریف د ملګرو ملتونو د پالرمو له پروتوکولونو سره نږدې مالومیږي. په هر صورت، ځینې ابهامونه لا هم شتون لري. د بېلګې په توګه، په قانون کې «د انسان قاچاق» (پښتو) یا «قاچاق انسان» (دري) د اینګلیسي trafficking لپاره کارول شوي دي چې حتی د لوړو کچو حکومتي مامورینو او څارنوالانو تر مینځ د مفهومونو مغشوشوالی رامینځ ته کوي، ځکه چې دا اصطلاحات په پښتو او دري کې په عمومي ډول د مهاجرینو او کډوالو د قاچاق مانا ورکوي.

د دې تر څنګ، د تعدیل شوي قانون، له ۱۰تر ۲۱مې مادې، او د ۲۲ مې مادې دوهمه او دریمه فقره د نوي جزایي کوډ قانون (Penal Code) له لارې چې د ۲۰۱۸ زېږدیزکال د فبروري له ۱۴ مې نېټې نافذ دی لغوه شوي دي ۴ ، خو د قانون پاتې برخې نافذه دي ۵. په داسې حال کې چې په دواړو قوانینو کې (انساني قاچاق او جزایي کوډ ) کې ورته مادې شتون لري ، خو یو قانون هم دا موضوع نه تشریح کوي چې د کوم قانون مادې د پلي کیدو وړ دي او د کوم قانون مادې ملغا دي.

دغه ورته مادې چې په دواړو قوانینو کې شتون لري مختلف اصطلاحات لري ، نو په دې توګه مغشوش والی لا ډیر ژوریږي. د بېلګې په توګه، د قاچاق قانون په دریمه ماده کې د موندل اصطلاح استعمال شوې په داسې حال کې چې د جزا قانون په ۵۱۰ مادې کې د ترلاسه کولو اصطلاح د ورته مقصد لپاره کاروي؛ خو دا دواړه پښتو اصطلاحګانې په بشپړه توګه مختلفې معنا ګانې لري. لومړی کلمه داسې یو وضعیت تشریح کوي چې یو څوک پرته له کومې هڅې کوم شی پیدا کوي ؛ په داسې حال کې چې دوهم لغات داسې یو وضعیت څرګندوي چې یو څوک وروسته له ډیرې مبارزې او هڅې کوم شی لاس ته راوړي. په بل عبارت، لومړی لغات یو غیر ارادي عمل بیانوي، خو په دویم عمل کې اراده شتون لري. د ۲۰۱۷ ز کال د ذکر شوي قانون پر اساس، له اختطاف (تښتونې) او د انسان له قاچاق سره د مبارزې عالي کمیسیون (تر دې وروسته د عالي کمیسیون په نوم یادیږي) رامینځته شو. د کمیسیون عمده موخه دا وه چې د اړوندو واک لرونکو ادارو ترمینځ ښه همغږي رامینځ ته شي او داسې اغیز لرونکې پالیسۍ جوړې شي چې د چټکو او اغیزمنو غبرګونونو ملاتړ وکړي.

عالي کمیسیون چې له نهو وزارتونو او اوو نورو حکومتي او غیر حکومتي موسسو څخه جوړ دی، د عدلیې وزیر تر څارنې لاندې کار کوي. په هر صورت، موندنې ښایي چې د عالي کمیسیون ټول غړي په منظمه توګه په میاشتنۍ تخنیکي غونډو کې ګډون نه کوي. سربیره پردې، عالي کمیسیون په خپل جوړښت کې ښځینه استازې نه لري.

**د قانون پلي کولو میکانیزمونه**

د کورنیو چارو وزارت(MoI) د قانون د پلي کولو میکانیزمونو د اداره کولو مسئولیت په غاړه لري. د کورنیو چارو په وزارت کې دوه اداری شتون لري: د انسانی قاچاق ضد (TIP) اداره او د افغانستان د سرحدي پولیسو (ABP) اداره چې په ملي او سیمه ایزه کچه کار کوي. سربیره پر دې، د ملی امنیت ریاست(NDS) خپل ځانته داسې اداري لري چې په مرکزي او ولایتي کچه د انسان له قاچاق سره مبارزه کوي. څلورمه اداره په کابل کې د انترپول ملي مرکزي دفتر(بیرو ) ده. په کورنیو چارو وزارت کې د انسانی قاچاق پر ضد اداره د پخوا په پرتله د پام وړ افسران لري، چې شمیر ئې ۸۳ کسان دي او ټول هیواد تر پوښښ لاندې نیسي. په هرصورت، په افغانستان کې د انسان د قاچاق ستونزې د پراخې کچې په پام کې نیولو سره دا شمیر خورا لږ معلومیږي. تر شمیر ور هاخوا، دا اداره د خورا لږو سرچینو، لومړنیو وسایلو او ملاتړ د نه شتون له امله له ډیرو نورو ستونزو سره مخامخ ده چې په مناسب ډول د خپلې دندې په ترسره کولو کې پاتې راغلې ده.که څه هم د افغانستان سرحدي پولیسو د ۲۰۱۷زیږدیز کال په وروستیو کې په رسمي توګه د دفاع وزارت ته وسپارل شوه، خو د نوموړې اداري هغه برخه چې له انسانی قاچاق (تښتونې) سره په مبارزې بوخته ده د کورنیو چارو په وزارت کې پاتې شوه. د انسان له قاچاق سره مبارزه په عمده توګه دافغانستان له سرحدي پولیسو کار دی، او په ځانګړې توګه د سرحدونو په اوږدو کې د قاچاق بندول د دې اداري په غاړه دي، ځکه چې سرحدي ټولې پوستې، هوائي ډګرونو او افغانستان ته د ننوتلو ټولې اصلي دروازې د دوی تر واک لاندې دي.

په هر صورت، د څیړنې موندنو څرګنده کړه چې د افغانستان سرحدي پولیس په ځانګړې توګه د انسان له قاچاق سره د مبارزې لارښود (SOP) نه لري. برسیره پردې، د افغانستان سرحدي پولیسو د یادې موضوع په هکله کومه معیاري روزنه نه ده ترسره کړې او یا ښائي په

---

۳ هغه فعالیتونه (کړنې) چې په هغو کې د زړو نارینه وو او ځوانو نارینه وو یا هلکانو ترمینځ جنسي اړیکې ښکیل وي.

۴ د جزا قانون ۷۹۰ مخ، (د ۲۰۱۷ زیږدیزکال د مې د میاشتی ۱۵ مه) ، شمیره. ۱۳۲۰، د عدلیې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت.

۵ د عمده مالومات ورکوونکي سره مرکه، د عدلیې وزارت ( د ۲۰۱۸ زیږدیزکال د فبروري ۱۷ مه).

غلط ډول روزل شوي وي دا ځکه چې د قاچاق د مخنيوي په اړه کوم کاري لارښود نشته دی. د روزنې روزنيز لارښود د (IOM) له خوا جوړ شو او روزنه په ۲۰۱۸ زيږديز کال کې پيل شوي ده.

د ملي مرکزی بيرو اداره (NCB)د ثبت شوو قضيو د اړينو مالوماتو يو ډيټابيس لري. داسې مالومېږي چې دا اداره ښه سمبال شوي او مسلکي زده کړې ورکړې شوی . په هر صورت، ددې څېړنې پر مهال د انسان د قاچاق د جرم هيڅ ثبت شوي قضيې شتون نه درلود. په افغانستان کې د ملي مرکزی بيرو اداری له خوا په ټول هيواد کې حتی د انسان د قاچاق په هکله د هيڅ قضيې نه شتون، د داسې قضيو لږ څېړنې او څارنې ته منسوب کيدای شي.

**خونديتوب او ساتنه**

د نړيوالو معيارونو پراساس، د انساني قاچاق قربانيان بايد د درې ځانګړو هڅو له لياری وساتل شي: ژغورنه، بيارغونه او بيا يو ځای کيدنه. د قربانيانو پيژندنه او د هغوی د راجع کولو يو سيستم د ژغورنې د هڅو يو اړين عنصر جوړوي. سره له دې چې په ډيرو نړيوالو سندونو کې د قربانيانو د پيژندلو لپاره د حکومتي او غير حکومتي ادارو ترمينځ د همکاريو او ګډکار پر ضرورت ټينګار کيږي، خو په افغانستان کې يوازې د قانون پلي کولو اداري حق لري چې د قربانيانو د پيژندلو کار ترسره کړي. دوه عوامل چې په ځانګړې توګه د قربانيانو د پيژندلو لپاره مناسب ګڼل کيږي دا دي:

- د انساني قاچاق قضيې ډيری وختونه له نورو جرمي قضيو لکه اختطاف (تښتونې)، جنسي تيري او غير قانوني مهاجرت سره يو شان شميرل کيږي.
- ډير شمير جوړښتي او تخنيکي عوامل او د قربانيانو د پيژندلو لپاره د معياري کړنلارو نه شتون، د قربانيانو د پيژندلو په جريان اغيزه کوي.

ټولې امن خونې چې د نړيوالو موسسو او افغان حکومت له خوا اداره کيدلې د مرستی د کموالي په سبب تړل کيدو ته اړ شوي دي. سره له دې، د غير حکومتي موسسو له خوا لا تراوسه هم د ځينې امن خونې شته دی چې د ښځو او کوچنيانو د قربانيانو ملاتړ او ساتنه ترسره کوي خو د سړيو لپاره داسې کوم ځای نشته دی. سربيره پر دې، يوازې هغه ښځينه قربانيانې چې د حکومتي ادارو د بيلګې په ډول د ښځو د چارو وزارت (MoWA)، يا د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت لخوا راجع کيږي، امن خونو ته لاس رسي لری. ددې خبرې مانا دا ده چې په افغانستان کې د انساني قاچاق د نارينه وو او د ۱۸ کلونو له عمر څخه لوړو هلکانو قربانيانو ته د راجع کولو خدمتونه شتون نه لري. ډيرې داسې لارې شته دی چې په افغانستان کې د ادغام او کورنۍ سره د بيا يوځای کيدو بهير ته آسانتياوې برابر وي. اوسمهال، د قاچاق په قضيو کې، له ټولنې سره ادغام او له کورنۍ سره بيا يوځای کيدنه له ډيرو ستونزو سره مخامخ ده.

له نورو جرمونو سره د انسان د قاچاق د قضيو د ورګډولو له امله ، د قاچاق ډير قربانيان د تيريو د نورو بڼو لکه ناموسی تيری او کورنی تاوتريخوالي قربانيان ګڼل کيږي، نو ځکه له خپلې کورنۍ سره د هغوي بيا يو ځای کيدنه لا ډيره ستونزمنه کيږي. برسيره پردې، د زده کړې مسلکي پروګرامونه چې کولای شي د قربانيانو له بيا يوځای کيدلو سره مرسته وکړي، لږ دي. همدا راز، د روغتيايي آسانتياوو د محدوديت او د منابعو (سرچينو ) د نه شتون له کبله، افغان حکومت ددې وړتيا نه لري چې قربانيانو ته وړ او مناسب روغتيايي خدمات وړاندې کړي.

**(قانوني) څارنې**

د نړيوال «P ۳» د دريم عنصر په توګه، له انساني قاچاق سره د مبارزې لپاره د انسان د قاچاق د قضيو قانوني څارنه اړينه ګڼل کيږي. په هر صورت، په افغانستان کې د قانوني څارنې کچه په ځانګړې توګه د قانون پلي کوونکو ادارو کې د جرمونو د کمولو لپاره د نه وړتيا ، د جرمونو د څيړنې او جرمي پيښو د ناوړه څيړنو له کبله خورا ډيره کمزورتيا لري.د انسان د قاچاق د جرم په کشف کې، د قاچاق وړونکو کسانو پر ضد اداره د سرچينو او مسلکي زده کړو د نه شتون په شمول له ډيرو ستونزو سره مخامخ ده. ددې ترڅنګ، د قربانيانو له خوا د شکايت کولو قضيې ډيرې لږې دي دا ځکه چې د قربانيانو د قضيې ثبتول د هغو په رضايت پورې تړلی ده.

دا موضوع ددې لامل ګرځي چې د څيړنې دا سې بڼه رامنځته کړي چې د غبرګون په ډول تر سره کيږي او دغه ډول څيړنه د مخه نيونکې څيړنې متضاده بڼه ده. د مخه نيونکې څيړنې طريقه داسې ده چې د واقع کيدونکو جرمي هڅو په وړاندې د راټول شويو مالوماتو پر بنسټ چې د استخباراتو يا عينی شاهدانو د ريپورټونو له لاری تر لاسه شوی وی د سملاسي مداخلې غوښتنه کوي.

په داسې حالتونو کې د پوليسو له خوا ځنډنی غبرګون کيدای شي د قربانيانو لپاره زيان رسونکې پايلې رامينځ ته کړي. په داسې حال کې چې د مخه نيونکې څيړنې د شاهدانو لپاره د ژرپيښيدونکي (فوري) ګواښ سبب نه ګرځي، او پوليس هم اړ نه دي چې بيړنی غبرګون وښايي. په دې توګه د پوليسو اداره کولای شي خپلې هڅې د عملي پلانونو او سرچينو پراساس د شواهدو د راټولولو لپاره، تنظيم کړي. بله ستونزه چې د مخه نيونکې څيړنې مخه نيسي د ۷۲ ساعتونو د کړنلاې په اړه غلط درک دی: دا يوه غلطه پوهه ده چې ګويا پوليس يوازې او يوازې په ۷۲ ساعتونو کې، مخکې له دې چې موضوع لوی څارنوالۍ ته وليږي، بايد هرومرو لومړنی څيړنې بشپړې کړي. د لومړنی څيړنې او شواهدو د راټولولو په اړه د معياری کړنلارو نه شتون د قاچاق وړونکو کسانو ضد اداري ته بله اوږدمهاله ستونزه ګڼل کيږي . د دې ډول جرمونو څارنه د ستري محکمې د يوی بلې ځانګې په غاړه ده چې د کورنې او بهرنې امنيت (SPIES) پر ضد د جرمونو د څارنې په نامه ياديږي. SPIES نور جرمونه لکه د ترهګری قضيې هم څاري چې د دعوی خصوصي وکيلانو لپاره په محکمه کې په منظمه توګه د هغوی فزيکي شتون له ننګونو سره مخامخوي. په پايله کې، دا موضوع ډير وختونه د تورن لپاره د عادلانه محاکمې حق کمزوری کوي. برسيره پر دې، لکه څرنګه چې په افغانستان کې د قربانيانو لپاره د حساسو څيړنو مهارت شتون نه لري، نو دا ډول تمايل په SPIES محکمو کې لا ډير څرګند دی. علاوه پر دې، د جزائي څارنې لپاره اړوند مالومات د ستري محکمې د فيصلی په شمول،

تر هغو چې مدني ټولنو موسسو ته د محاکمې د څارنې او ښکیلتیا په اړه اجازه ورکړ شوي نه وي، په عامه توګه د لاسرسۍ وړ نه دي. په پایله کې، د خپلواکې څارنې میکانیزم شتون نه لري چې د قانون له حاکمیت سره سم، په تیره بیا د انسان د قاچاق په پیښنو کې، د قضائې پریکړو کره والي ډاډمن کړي.

د افغان حکومت او نړیوالو ادارو اوموسسو ګډون: د افغانستان د حکومت په ټولو سکتورونو کې د نړیوالې ټولنې ملاتړ خورا اړین ګڼل کیږي. په دې ملاتړ کې د قانوني وسیلو برابرول، د قانون د پلي کوونکو ادارو او د انساني قاچاق په اړه د عالي کمیسیون او قضاء د استازو د وړتیا لوړول شامل دي. برسیره پر دې، د راجع کولو یو شمیر میکانیزمونه او امن خونې په مالي توګه سمبال شوي وي چې اوس غیر فعاله دي. په هر صورت، په دې اړه یو څه نیمګړتیاوي شته دي:

- هغه روزنې چې د قانون پلي کوونکو ادارو ته چمتو شوې وي، ډیری وختونه لنډ مهالې وي او یا د لنډمهاله کورسونو یا سیمینارونو بڼه یې لرله.
- د انسان د قاچاق په اړه پرته له اوسني لاربښود کتاب څخه چې په ۲۰۱۸ زیږدیزکال کې خپور شو ، د زده کړې کوم ځانګړي تعلیمي نصاب شتون نه درلود.
- د انسان د قاچاق په هکله یو شمیر روزنیز پروګرامونه چې د برابرولو پړه ئې د نړیوالو موسسو پر غاړه وه په تیرو دوو کلونو کې د سرچینو(منابعو ) د نه شتون له کبله وځنډول شول.
- د قاچاق د قربانیانو د ساتنې لپاره یو ثابت میکانیزم جوړ نه شو. د بیلګې په توګه، کیدلای شوه چې د مرسته کوونکو له خوا د تمویل شویو امن خونو ملاتړ تر هغو پورې چې د قاچاق وړونکو کسانو پر ضد اداره د قربانیانو د ساتنې لپاره ځانګړې ادارې ته ولیږدول شي، د بودجې د میکانیزمونو له لارې ترسره شوی وایی.

## سپارښتنې

**مخنیوی**

۱. د ۲۰۱۷ زیږدیزکال د قاچاق قانون بیاکتنې ته اړتیا لري ترڅو چې د جزاء کوډ له قانون (Penal Code) سره متناقص یا مغایر موارد تشخیص او لیرې شي. کله چې نوموړي موارد د جزاء د قانون له مواردو سره په یوه لیکه کې ودریدل، نو د پالیسیو روښانه او ښه پلي کیدو ته به لاره خلاصه شي او د انسان د قاچاق، د مهاجرینو په غلا تیرول او اختطاف (تښتونې) مخنیوی به وشي.

۲. د افغان حکومت د پالیسي پلي کولو واک باید هرومرو ډیر شي ترڅو د عالي کمیسیون د غښتلیتوب له لیارې د هغه اجراات ثبات پیدا کړي.

۳. د عالی کمیسیون تر پاملرنې او صلاحیت لاندې باید د انساني قاچاق په اړه یو عامه ډیتابیس جوړشي.

۴. کیدای شي یو لړ داسې کړنې ترسره شي ترڅو د قانون د پلې کوونکو ادارو وړتیا لوړه او د انسانی قاچاق سره د مبارزی په وړاندې پرتی ننګونې له منځه لاړې شي.

- د جرمونو د څېړنې په څانګه کې باید د قاچاق ضد اداره پراخوالی ومومي.
- د تخصصی، او لوړ پوړو کارکوونکو د روزنې لپاره د زده کړی معیاري تعلیمي نصاب باید جوړ شي.
- د انساني قاچاق پر ضد د افغانستان د سرحدی پولیسو د ونډې لپاره باید تفصیلي معیاري او عملی کړنلارې (SOPs) رامینځ ته شي.
- د ادارو او څانګو ترمینځ د مالوماتو شریکول او همغږی ته پراختیا ورکړئ. په دغو ادارو او څانګو کې د جرمونو د څېړنې اداره ، د افغانستان د سرحدی پولیسو ، د ملي امنیت ریاست او انترپول شامل دي.
- د قاچاق ضد اداری باید لا ډیرې منابع (سرچینې) په واک کې ولري.
- افسران(کارکوونکي) باید وهڅول شی چې د غبرګون ډوله څېړنو پر ځای د مخه نیونکي څېړنو ته، د هڅونې سیستم د جوړولو له لیارې، وده ورکړي.
- د قضیو د ادارې او مالوماتو د شریکولو لپاره د مالوماتو او ادارې سیستم (NIMS) یا د قضیو د اداري سیستم (CMS) په شان یو عامه ډیتابیس رامینځ ته کړئ. نوموړی ډیتابیس باید د حساسو مالوماتو لکه د قربانیانو عمده مالومات ورکوونکو یا د قضیې په اړه د شاهدانو د پیژندلو په استثناء نور مالومات وړاندې کړي.

۵. د افغانستان حکومت باید د رسنیو ، زده کړو سیستم او نورو اړوندو وسایلو له لیارې عامه پوهاوی پراخ کړي. حکومت باید د موضوع په اړه نورې څېړنې تمویل او د هغو ملاتړ وکړي.

۶. مالومات باید په عامه بڼه او منظم ډول راټول شي.

**ساتنه**

۱. ددې لپاره چې د قربانیانو د پیژندلو ښه میکانیزم ولرو، د قربانیانو د پیژندلو لپاره د قانون د پلي کولو افسرانو روزل اړین دي، د قانون پلي کول د ټولو ادارو لپاره د راجع کولو یو معیاري میکانیزم اړین بریښي، او د قربانیانو لپاره دلاسرسي وړ امن خونو د شمیرې لوړول لازمي ښکاري.

۲. د قاچاق د قربانیانو د ساتلو لپاره باید پایښت لرونکی میکانیزم په پام کې ونیول شي. کیدای شي دا موضوع د بسپنه ورکوونکو له خوا د تمویل شویو امن خونو د بیا پیل له لارې پلي شي او ددې لپاره چې د بودجې د سیستم د یوې برخې په توګه وپیژندل شي باید د لیږدونې لپاره ئې روښانه پلان تنظیم او دا ډاډ حاصل شي چې د بیړنۍ خوندي ساتنې لپاره او همدا ډول په ټولنه کې د قربانیانو د بیا یوځای کیدلو د ملاتړ ځانګړی میکانیزم شتون لري.

۳. د کورنۍ د بیا یوځای کیدنې او بیا ادغام چارې باید معیاري شي. د نوموړې کار د کولو لپاره، د پراخو تفصیلي مرکو طریقې او د یوځای کیدنې لارښوونه، او همدا ډول د قرباني او د کورنۍ د غړو شفاهي مرکو یو ځای کول چې په جلا توګه ترسره کیږي اړین بریښي.

۴. د حرفوي روزنې فرصتونه د بیا یوځای کیدنې د هڅو په توګه پیاوړې کړئ.

۵. قربانیانو ته باید د روغتیائي او رواني مرستو رسونه لازمي ښه ولري.

**قانوني څارنه**

۱. د جرمونو د ښه روښانه کولو لپاره، منظمه روزنه او مخنیونکي څیړنو ته پراختیا ورکړئ.

۲. د جرم د مدیریت سیستم او د لومړنیو شواهدو راټولول معیاري کړئ.

۳. د قضیو څیړل اصلاح کړئ:

- د قرباني د شاهدي د راټولولو طریقې معیاري کړئ. د بیلګې په توګه، شهادت باید د ټولنیز کارکوونکي یا دریمګړي شاهد لکه د سیمه ایزې ادارې یا په ټولنه کې د قضاء کارکوونکي په شتون کې ترسره شي چې هلته قرباني پیدا شوی وي.
- د قرباني او شاهد د ساتنې لپاره باید کړنلارې او میکانیزمونه جوړ او پلي شي.

۴. د قضیې د محاکمې ښه کول:

- د کورني او بهرني امنیت پر ضد د جرمونو د څارنې اداري محکمو ته لاسرسي پراخول.
- ډاډمن شئ، چې په تیره بیا د بیا ځلي قضیو او مجرمینو په باره کې د قانون پربنسټ تر ټولو ډیره جزاء ورکړل شوي ده.
- د محکمو پریکړې باید عامه خلکو ته ورسول شي چې په عمومي توګه په قضاء کې د پالیسي عمده بدلون ښیي.

**نړیوال ګډون**

۱. د ملاتړ اوږد مهاله او پایښت لرونکي داسې پروګرامونه جوړ شي چې د لنډ مهاله او ناڅاپه نوښتونو پرځای، د افغانستان په اداري بنسټونو کې د وړتیا په لوړولو باندې تمرکز ولري.

۲. د افغانستان په حکومت کې د وړتیا په جوړونې تمرکز وکړي چې د انسان په قاچاق باندې پوه شي، د هغه په اړه اجراات وکړي او د زده کړې پروګرامونه بشپړ کړي.

۳. د هر روزنیز پروګرام په مالکیت او ګډون باندې چې افغانستان د امنیت، د قانون د پلي کیدو او قضائي ادارو، او همدا ډول د مدني ټولنې او غیردولتي بنسټونو لپاره جوړ شوی وي، ټینګار ې.

۴. ډاډ تر لاسه کړې چې د زده کړې ټول مواد چې د افغانستان له حکومت سره د نړیوال ګډون په پایله کې برابرشوې د زده کړې ادارو د شته زده کړې موډلونو او نصابو یوه برخه وګرځي.

د بسپنه ورکوونکو له خوا تمویل شوي امن خونې د ځانګړې پلان له لارې د اوږد مهال لپاره پایښت لرونکي کړي.

هغه نظريات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په ليکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د نظرياتو منعکس کونکې ندی.

| | |
|---|---|
| د خپروني کوډ | ۱۸۰۳P |
| ژباړه | محمد کاظم ملوان |

# د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې( AREU )په اړه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څیړنې یو خپلواکَ بنسټ دی چی په ۲۰۰۲ م کال په افغانستان کې د نړیوالی ټولنی له خوا جوړ شو. د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسی پوری اړوند څیړنی برابرول او په فعاله توګه د دغو څیړنو د پایلو نشرول او همداسی د شواهدو پر بنسټ د څیړنې او زده کړې د کلتور خپرول دی. د پنسیلوانیا دپوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په افغانستان کی د یوو څیړنیز بنسټ په توګه دلوړ مقام لرونکی دی او په منځنی آسیا کی د څیړنیزو بنسټونو په منځ کی په پنځم کچه کی ځای لری. د افغانستان دڅیړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې دلاسته راوړلو لپاره د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څیړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان دڅیړنې او ارزونې اداری لهڅیړنو او کتابتونه کار واخلي او دڅیړنې په برخه کی خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداره د مشرانو د بورډ لخوا چی د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینی نوروسازمانونو، مدنی ټولنی او دخپلواکو کارپوهانو استازی په کی شامل دی، اداره کیږی.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Prospect Magazine) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.




**تمویلونکی:**

د دی اداری تمویلونکی د سویدن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO), Overseas Development Institute (ODI-UK), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation (SDC), and British Council (BC).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Resolve Network, Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), Global Challenges research Fund (GCRF), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict, Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian

Think Tank Network (ATTN) and The Central Asian Think Tank Network (CTTN).